# د پښین او مستونګ په قبائیلي دودونو د براهوي او پښتو د شاعري اثرات

**Impacts of the poetry of Pashto and Bravi on tribal customs of Pishin and Mastung**

یاسمین ایوب*

**Abstract**:

Author of this Paper Staines to mainpoint the mutual customs,rites and other cultural reseambles of Pashtoons and Brahvis in pishin and mastung districts in the light of the poetry.the auother traced both good and bad students found in their semi triebles societies criticized in the literature of these languages.

**Keywords**: pishin and mastung, literature, cultural reseambles.

بلوچستان د سیاسي او جغرافیائي لحاظه یو لرغوني ولایت ګڼل کیږي. چې د بلوڅانو پرته پښتانۀ او براهویان په کښې اوسیږي. د دغو دواړو قبائلو تاریخي، معاشي، او معاشرتي حالاتو جاج واخلو نو د دوی په ژوند کښې ډېر مشترکات په نظر راځي.

مثلاً زموږ د سیمي زیاتره شاعران د خپل کتاب پېل د خدائ تعالیٰ په حمد سره کوي. د خدای تعالیٰ په وحدانیت کلامونه لیکي. د خدای تعالیٰ فضل و کرم، قدرت کامله، بېلابېل کېفیات د احترام په لوړه پیمانه په ډېر شوق او ښائست سره بیانوي، په خپلو کلامو د ټولو د ایمان د تازه کولو هڅه کوي.

لکه څنګه چې افضل مراد د خپلي شاعري پېل د خدای تعالیٰ په حمد و ثنا سره کوي.

"یارب ورحمان — شیطان نافکر واہکان
آسمان زمین ناینامان — بخش نن خدایا!
اب محبت نبی ﷺ — نابخش نن خدایا!
بخش ہندئن نن — بدکار گندہ نن
رحمت نازندئن نن — بخش نن خدایا!" (۱)

په حمد کښې د خدای تعالیٰ څخه د رحمت دعا کوي او وائي چې اې خدایه! موږ په ځمکه او د اسمان په منځ کښې د شیطان له فکر او فریبه څخه وژغورې. د خپل پېغمبر ﷺ په مینه کښې موږ ته عفو وکړې او د قیامت په ورځ بخشه راته وکړې، په خپل رحمت مو وبخښې.

* M.Phil. Scholar,Department of Brahvi,UOB

د خدای تعالیٰ د حمد و ثنا وروسته هر شاعر که پښتون که براهوي د زړۀ له کومي د حضور اکرم ﷺ لوئي او عظمت بیانوي، د چا د وجي څخه چې دا کائنات پیدا شوی دی. د قرآن کریم هر یو لفظ د هم دۀ عظمت ګڼل کیږي. د یٰسین، طٰهٰ او د مدثر په نامۀ بلل کیږي. د دۀ ثنا و صفت د حسن او رحمت سبب دی. ښۀ بخت لرونکي وګړي د نبي کریم ﷺ عظمت او شرافت په خپلو کلامونه څرګندوي. دغه رنګه براهویان او پښتانۀ په خپله شاعري کښې د حمد پس نعت لیکي او د شاعري پیل له حمد او له نعت څخه کوي. لکه څنګه چې مولانا بنو جان نا د خپلي شاعري پیل په حمد او نعت سره کړی دی.

"ننے عشق ئے سدا مور ننا شکر کہ رب نی اس
محمد یار سول اللہ ﷺ ہتم نا گل نی اس
گلاب نا گل حسنؓ میرے حسینؓ نے اونا پیرے
جنت خاتون غمگیرے علی سر تاج لقب نی اس" (۲)

ژباړه: موږ د خپل خدای شکر ادا کوو او له دۀ سره ډېره مینه کوو. دۀ په خپله شاعري کښې نبي کریم ﷺ ته د بهار د هر ګل سره تشبې ورکړې ده. دوه ورونه حضرت امام حسن او حضرت امام حسین د ګلاب د ګل په څېر دي. حضرت فاطمه رنګه د جنت لقب ورکړل شوی دی او حضرت علي ته هم د شېر خدا لقب ورکړل شوی دی.

د پښتنو او براهویانو دود و دستور هم هغه رنګه پاته دی. خپل مالونه پیائي د موسم په بدلېدلو کښې د یخو سیمو څخه و ګرمو سیمو د مال په نسبت هجرت کوي. د دغي هجرت په وجه دغه وګړي په یو ځائ نۀ شي ټیکېدلائ، ځکه چې د ټولو ضرورتونه نۀ شي پوره کېدلائ. په هم دغه څېر دوئ یو داسي سیمي ته ځي چېري چې نه زیاته ګرمي وي او نۀ زیاته یخني. دوی په هم هغه سیمو کښې کډي اړوي. دغه ته په براهوي ژبه کښې جهګی وائي. په براهوي ژبه کښې بېلابېلو شاعرانو په جهګی ډېر شعرونه لیکلي دي.

"کنا داغر یبی اھگی نے پاپیں نشانی ارے منکنو شان سے نا
دغار اینو سر سوز حسین فنگ تڑ ینو چاوہ ارمان سے نا
وہو کلا سر نیٹ کرکے غسل صابر ارے بشخ دائم چا ایمان سے نا" (۳)

ډاکټر عبدالرزاق صابر په خپله شاعري کښې څه دا رنګه بیان کوي. او وائي چې:

ژباړه: زما غریبي دومره زیاته ده چې زهٔ خپل وخت په دغه جهګۍ کښې تېرومه، که څه هم زما دغه جګۍ خامه ده خو تاسي ئې خامه مهٔ ګڼئ. دا هم د باچهي نښاني رانښکاره کوي لکه نن سبا چې ئې موږ وینو. دغه ځمکه په سره رنګ لړلې ده. داسې ښکاري لکه د یو زړهٔ څخه چې ویني بهېږي او زما په زړهٔ کښې دا ارمان دی چې په دغه وینو کښې ولمبېږم.

" جس طرح مقدولہ روایات کے مطابق بضیں قدیم شرین کاریزات گبر ان کی تعمیر کردہ ہیں اور ان سے یہ نتیجہ اخذ کیا جا سکتا ہے کہ افغان اپنے مولد تخت سلمان کے قریب وجوار سے شمال و مشرقی ہمت سے پیش میں داخل ہو۔" (۴)

"مستونگ میں اس وقت مختلف قبائل آباد ہے۔ ان قبائل میں ابابکی، بنگلزئی، سرپرہ، محمد شہی، کرد، مینگل، شاہوانی، محمد حسنی، سمالانی، پندرانی، ریسانی، لہڑی، ساسولی، ملازئی، زہری، جتک، نیچاری، خواجہ فیل، دہوار، علیزئی، شیخ، پکپاسی، دوپاسی، زرخیل، ترین، بڑیچ، سارنگزی، ساتکزی، گرکناڑی، قلندری، قمبرانی، ان قبائل میں ان کے اپنے سردار اور نواب ہوتے ہے۔ ان قبائل میں سرداروں اور نوابوں کو بہت اہمیت حاصل ہے جو حکومت اور سیاست میں بہت بڑے کردار ادا کرتے ہے۔" (۵)

دلته د بېلګي په توګه د لسانیاتو د یو ماهر بله حواله را اخلي:

"بعض ماہرین لسانیات براہوی زبان کو درواڑی خاندان کی ایک شاخ لکھتے ہوئے کہتے ہیں کہ درواڑی زبان قدیم ہندوستانی معاشرے اور قبائل کی زبان تھی جس کو اریاؤں نے شمالی ہند سے دھکیل کر جنوبی ہند کی طرف بھیج دیا۔" (۶)

دغه رنګه د پښنین په قبیلو کښي عیسیٰ خېل، نیان زئي، شموزئي او چرمي احمد خېل کښې کاکړ اوسېږي.

احمد خېل او کاکړ د ګرمیو موسم په خپلو کلیو کښې تېروي او چې کله یخني راشي د خپلو مالو سره د پښنین په سیمه کښې سره خواره شي.

مالونه د اقتصاد په حواله سره ډېر ګټور دي د بلوچستان سیمه په دغه حواله سره یوه لرغونې سیمه بلل کېږي.

د ځینو براهیویانو او پښتنو قومو ګزاره په خپل مال (بوزو او مېږو) کېږي.

دغه رنګه زموږ شاعر مولانا عبدالخالق ابابکي په دغه هکله یوه غزل لیکي:

"اللہ کرے داڑے کرام — ہر واارے ملکے وسم
اے سال کہ اس ڈکّال ٹی — سوکائی الّومال ٹی" (۷)

د خدایٔ په نعمتونو کښې باران تر ټولو لوی نعمت ګڼل کېږي. د باران د نه شتون په وجه د هري سیمي وګړي ډېر په تکلیف کښې وي.

زموږ خلګ خپله زیاته ګزاره په مال کوي. دغه رنګه هغه په خپل مال ډېر خفه شي او په دغه اشعارو کښې وائي چې کوم کال چې بارانونه نهٔ کېږي زموږ مال او مویشي ډیر کمزوري شي. لکه څنګه چې ژوند د دودمحتاج دی که چېري دغه ثقافت نه وي، د ژوند خوندونه او رنګونه بې خونده شي. دود په حقیقت کښې د معرفت لاره ګڼل کېږي.

دغه رنګه براهویان او پښتانهٔ ځانته دودلري. د دواړو دود په یو رنګه دی. که په ډاګه ورته وکتل شي د دواړو قومو د نارینوو جامې یو رنګه دي. دواړه لنګوټې تړي. هم دغه لنګوټې د دواړو قومو ستره نښاني ګڼل کېږي. دغه رنګه زموږ د ودو دودونه هم په یو رنګه دي په ودو کښې د دواړو قومونو دودونه سره ورته دي.

"گروبین اے خرناچاء چلم تو ہنینا ہے دور باری ارادے
شنکی ہستم گوڑاخ آتا کریکہ ہتم ناہمو رنگ داری ارادے"(۸)

د سپرلي میاشت چې را نوې شي چارچاپېره ډېره عجیبه غوندي رنګونه ځرګندېږي. او هري لوري ته د "ګوړاخ" ګلان د تازه تازه ګېډیو په څېر ځرګندېږي.د هم دغه سپرلي په میاشت کښې د یو بل سره په ناستي کښې او د چایو یو عجبه خوند او انداز لیدل کېږي.

سردار او نوابانو ته د خانۍ لونګۍ د تړلو دود په کلیو کښې تر سره کېږي بیا د دود وروسته یوه لویه دعا پر کوي. په دغه دعا کښې د دوی دپاره د ډېر عمر د زیاتوب دعا ورته کېږي. دغه دود له ډېره وخته او له قدیمي زمانې څخه راروان دی. په هم دې څېر زموږ شاعر غریب شها انجم نا په خپله شاعري کښې داسي بیان کوي.

"داڈغار آ آسمان ءِ بیر فن خلق اناہر ہر گدان ءِ بیر فن
اینو نن تون ءِ ثقافت زندہ غا برنی تینا ہر شوان ءِ بیر فن
پُھل لاڑو کین میری ءِ تینا ہار شاغِن تینا خان ءِ بیر فن
کاٹم آ دستار آ خس زیب کیک سوچ ءِ تینا اے گمان ءِ بیر فن " (۹)

دغه رنګه زموږ دود ژوندی دی. دغه دود به تر هغه وخته ژوندي وي تر کومه وخته چې د کوچنۍ طبقې خلګ د لوړي طبقې سردارانو او نوابانو ته عزت ورپه برخه کوي. دلته یوه خبره هم بله نهٔ شي کېدلای د ژبې هغه مطالعه هم دلته کېږي چې د دغه قوم د تاریخي، معاشي حالت جائزه اخستل کېږي. دغه رنګه د براهیوانو او پښتنو زیاتره وګړي د خپل کور کار په خپله کوي.

د دغه دوو قامو ښځي سحار وختي د لمانځه په وخت د بوزو شودې رالوشي. د کور صفائي کوي. پخوا وختو کښې به د هم دغه وروسته د غنمو څخه اووړه جوړول په اولو وختو

کښې نۀ ژرنده وه او نۀ به د غنمو د ماتولو یوه بله ذریعه وه ښځو به د دوو ډېرو تر منځ غنم اچول او هم دغه به ئې مېچن کول. دغې ډبرې ته په براهوي ژبه کښې "نسخل" وئیل کېږي دغه "نسخل" حمید عزیز په خپله شاعري کښې داسې بیانوي.

"بش مہ لحہ گگ تیار امانن اٹ نسحل ئس نس کہ نکا نہیں دشت ٹی"(۱۰)

لکه څنګه چې په یو هېواد کښې ظلم زیات شي نو د هېواد د هم دغه ظلم څخه ځان ژغورنه ډېره ضروري وي. د هم دغه دپاره د انقلاب د راوستلو ضرورت دی چې شاعر دغه انقلاب ته کټ مټ د نسخل سره تشبیح ورکوي.

زموږ د سیمې په دواړو قومو کښې یو دود مشترک دی چې په دواړو ئې کوي. سحار وختي تر هر څه لمخه د خدای پاک عبادت کوي، د عبادت وروسته د کور صفائي کوي. اوبه راوړي، د اوبو پسته د غنمو مېچن کوي لکه څنګه چې مخکښې دغه ووئیل شو چې پخوا زمانه کښې د ژرندې یو هم نظام نۀ و او د غنمو ماتول به په "نسخل" کېدو هم دغه نسخل زموږ یو ډېر لرغونی مشین ؤ. او زموږ د دود یوه حصه بلل کېږي. لکه څنګه چې د انسانانو سره سره قومونه جوړېږي د دغه تاریخ خپله د انسان تاریخ بلل کېږي. دغه رنګه انسان په بېلابېلو قومونو کښې سره تقسیم شو، د دغو قبیلو سیاسي، اقتصادي، معاشي، تهذیبي او ثقافتي روخ لوړوي په دغه شاعري کښې د قدیمي زمانې عکاسي کېږي او د جدید دور ماحول هم له ورایه څرګند پکښې ښکاري.

د ډېره وخته څخه پښتون د بني اسرائیل په نامۀ پېژندل کېدو. د دوئ له نسل څخه ګڼل کېده. دغه نظریه لومړی ځل نعمت الله هروي په "تاریخ خان جهاني" کښې راڅرګنده کړه. چې د دغه اردو ژباړه ډاکټر محمد بشیر حسین په کال ۱۹۸۷ کښې وکړه. خو د ژبې پوهان وائي چې هم دغه نظریه د قبلولو نۀ ده. د کلا پروتهـ نام په نامۀ یو مستشرق پروفېسر پښتو ژبه اریائي ژبه ښودلې ده، هغه د پښتو لفظونه، جملې له فارسي او کردي سره یو ځائ پرتله کړي دي. د هم دغې پرتلې پسته دۀ پښتو ژبه له هند اریائي قومونو سره کړی دی.

د مستشرقین د تحقیق څخه د ډیورنډ د کرښې دواړو اړخو ته پښتانۀ محققین او مؤرخین هم دغه خواته متوجه شول. عبدالحئ حبیبي په خپل کتاب "د پښتو ادبیاتو تاریخ" لومړي جلد کښې په دغه حواله ډېر بحث کړی دی.

"پشتو ہڈیورپی یعنی آریائی زبانوں میں سے ہے۔ کیوں کہ ہماری سر زمین آریائی زبانوں کی جنم بومی ہے کہ اصل آریائی زبان (ایک) یہاں بولی جاتی تھی اور یہوں رہ گئی ہے اور آج تک اس کی بتی پشتو انہیں پہاڑوں میں زندہ ہے۔" (۱۰)

پښتون قام د افغانستان د ختیځ او لوېدیځ په سیمو کښې او د پاکستان په قبائیلي سیمو لکه خېبر پښتونخوا، وزیرستان د پنجاب په شمال مغرب کښې او د بلوچستان د ولایت په

مشرقي ښارونو کښې اباد دي. دغه ځمکه ډېره اباده او زرخيزه ده. دغه سيمي رېګجنه هم ده. زرغونه غرونه، زرغونه باغونه، د واورو ډک غرونه او ځنګلونه هم لري.

د هوا په ګرځونو ورک دغه قومونو په خاصه توګه د دغو قديمي او تاريخي قام مخصوصه دودونه دي. او دغه دواړو قومونه په نړۍ کښې له خپلو دودونو څخه پېژندل کېږي. دغه دودونه د پښتنو دپاره د يو قانون حېثيت لري. هر پښتون چې د خپلو دودونو څخه سړ غړونه کوي هغوئ ته هم د خپلو خلګو له وجهي د هېواد يا د ټولني غړي داسي ورته وائي چې ايا تهٔ هم يو پښتون ئې؟ پښتانهٔ هر ښهٔ کار ته له خپلي ژبي سره سم او بد کار ته په بد نظر ګوري. هم دغه خيال ته د پښتو بزرګ او پېژندونکي شاعر سيد خېر محمد عارف په داسي نظر ګوري.

ځومري ساده ئې اوس ئې هم په مزاج نهٔ پوهېږې
پښتون سړی ئې د پښتون په دود نهٔ پوهېږې(۱۱)

د پښتنو د دود و دستور پېژندنه خو په فولکوري شاعري کښې کېږي. چې د مخصوصه مزاج شاعري ده. په دغه شاعري کښې د پښتنو د تاريخي تسلسل او دورو په ترتيب سره د پښتنو د نفسيات خلاصه پېدا کېږي. او هغه شاعران چې په ټولنه کښې څرګند دي هغو ټولو په خپله شاعري کښې و دودونو ته ځای ورکړی دی.

د پښتنو دود او رواج عکاسي په فولکلوري شاعري کښې کېږي چې د مخصوصي مزاج شاعري ده.

بني اسرائيل چې کله د خدائ سره شريک پېدا کړ او شرک ئې پېل کړ. خدائ دوئ په قتل و جنګونو سره اخته کړل چې تر اوسه په دا کښې ګير دي. نظم ډېر اوږد دی خو دوه بنده به ستاسو په مخکښې وړاندي کړم.

کفاره ادا کول که مو زړهٔ غواړي
نو له تېکي رابهر کړئ خپلي توري

تر خپل منځ د ورور وژني جنګ اغاز کړئ
يو د بل اولاد يتيم کړئ ضدي بوري

لا تر اوسه وهي يو د بل سرونه
راتر اوسه يو د بل په وينو رنګ دی

بلبل کېږي پښتانهٔ دا ئې معمول دی
ورور د ورور او خپل د خپل په وينو پائي (۱۲)

په هغه ټولنه کښې چې د عدل و انصاف تصور نۀ وي او د جج او عدالت بنسټ نۀ وي ښودل شوی په هم هغه ټولنه کښې داسي پېښې منځته راځي چې د دباندې څخه نۀ ښکاري په دغه ټولنه کښې داسي دودونه يو ځاۍ ګڼي. که د قتل په وجه قتل نه وي نو په ټولنه کښې به د انصاف ضامن څوک جوړ شي.

دغه فکر ته که د قانون درجه نه وه ورکړل شوې نو د ظالم او طاقتور لاس به څوک ونيسي. دغه رنګه ولور هم يو دود دی چې پښتانۀ ئې د خپلې لور د قدر د پورته کېدو په سبب اخلي. او د دغې خبرې ضامن جوړېږي چې په ډېر مال باندې به د ښځې قيمت ورکوي. خو په ټولنه کښې دولت هم يو څو کسانو ته په لاس ورغلی دی چې جاګير دارانه نظام جوړ دی. او له دغه وجهې څخه په ټولنه کښې بد فعلونه پېل شي دغه دود د ښځو د اخستلو څخه پېل کېږي. هم دغه وجه ده چې پښتون قام له دغه دود څخه کرکه کوي. سيد خېر محمد عارف د قفس د بلبلې په نامۀ يو نظم ليکلی دی چې د يو ناوکۍ د جذباتو عکاسي کوي چې د ولور په بدل کښې پلار و يو سپين ږيری سړي ته ود کړې ده.

**د قفس بلبله:**

زۀ د قفس بلبله
په دې کوچنې جهان کې
له ډېره وخته بندې
کله وزر ټکوم
او کله رېز کومه

زۀ د قفس بلبله
په ښکاره پر لرمه
پر خو لرم مګر پرواز مې نسته
د خپلواکۍ د نغمو ساز مې نسته
اب او دانه مې سته دي
چې پرې ژوندون تېروم
خو د فطرت بر عکس
دغه ژوندون څه معنا
زۀ د قفس بلبله
د اشيانې په لټون
پراخه فضا او د بهار د زمانې په لټون

په خپل قفس کي کښته پورته کېږم
چي د بلبلو اواز
واورم له لېري څخه
نو خپل جهان رایاد شي
زخمي ځیګر
او د یادونو ګلستان رایاد شي (۱۳)

د پښتنو په چاپېریال کښې که دوه قومونه په جنګ سره اخسته شي یا یو قوم د بل قوم یو وګړی ور قتل کړي، نو د هم دغه په بدل کښې دغه قومونه خپلې ښځې قرباني کوي. په هم دغه سبب قاتل د مقتول د کور شمع بلوي.

زموږ د سیمو باسواده شاعرانو، پوهانو هم دغه دود په خپله شاعري او نثر کښې د دغه دود غندنه کوي. لکه درویش دراني چې د ناوې په نامۀ په یو نظم کښې په دغه نظم لیکلی دی. چې په دغه نظم کښې وادۀ کړې ناوکۍ د خپل پلار څخه خاوري بادوي.

**ناوې**

څه ترخې ورځې وې چې و د مړي پور درپسې
څه بد وختونه و چې خون دي و په غاړه بابا
تا چې له وینو سره تور لحد ته ولېږله
هغه څهره به دي وه سترګو ته ولاړه بابا
په ژوند کښې دومره بد ګمانه وې چې خپل لاسونه
درته ملګري د دښمن ښکارېدل دواړه بابا

پر مخ د مځکي به دي چرته هم قرار نه کېدی
ۀ په غضب لړلی تبغ د انتقام درپسې
په توره شپه کښې به دي چیغه تر خله وختله
و به په خوب کي هم په وینو سر انجام درپسې
هیله دي نه وه چې په منډه به ترې ځان وژغورې
له سرو زخمونو سره مرګ ۀ په غټ ګام درپسې

د خلاصون هره یوه لار چې داسي بنده شوله
نو بیا دي زۀ و قرباني ته کړم تیاره بابا
و خپل دښمن ته دي د مړي په بدل کښې ورکړم
او ځان دي خلاص کړ د تېرې توري له واره بابا

په نوي کور کښې چې اوس زهٔ یم مخامخ ورسره
په هغه حال باندې هم ځان کړه خبرداره بابا
زما د خوابښې چې زما پر مخ نظر ولګي
په دې هینداره کښې ستا لاس او ستا خنجر ووینې
تا چې د دې ښتن وژلې ؤ په کومه توګه
د زړهٔ په سترګو یو ځل بیا هغه منظر ووینې
بهاندې وینې ګڼ زخمونه ئې و خیال ته راشي
د خپل خاوند له تنه بېل د هغه سر ووینې
بل ځائ پر ناوې باندې پاشي خلګ سره ګلونه
دلته چا نوم هم زما نهٔ دی په روغ نیت اخستی
د خراسان تر واره سپینه خله لرم خو بیا هم
زما د ژودن ملګري نه دی ترې لذت اخستی
دا ئې په خیال کښې دي چې دهٔ د خپل بابا د وینې
زما د شونډو په صورت کښې دی قیمت اخستی
له روغي پس ئې هم په زړهٔ کښې دا ارمان ژوندی دی
چې مخامخ کړي له چړې سره ستا غاړه بابا
خود پښتو په دودزه شومه یو داسي پړی
چې په ترلي دي د دهٔ لاسونه دواړه بابا
هر څومره زور که خدائ ورکړی وي تر ما به خېژي
کولائ نهٔ شي چې ستا مېنه کړي ویجاړه بابا
تهٔ شوې ازاد ستا اندېښنې و پائ ته ورسېدې
اوس د غمونو په دوزخ کي زهٔ محصوره یمه
چې نېغ په نېغه ئې ګزار لګي پر زړونو باندې
پر هر پرهر نن د نفرت په هغه توره یمه
چې ستا په غشي زخمي شوی دی له قهره ډک دی
له غه ماره سره ژوند کوم مجبوره یمه (۱۴)

**پښتانۀ**

اسرائیل واړه د شرک پر لاز روان شول
د ښیښنو په څېر ئې مات کړل ایمانونه
د بدۍ تخم ئې وکاره پر مځکه
مرور ئې کړل له ځانه اسمانونه

پاس له عرشه دا خبر وربانديي راغی
چي په برخه مو د دوو جهانو غم دی
په دنیا کي به لعنت دراندي اوري
په قیامت مو نصیب اور د جهنم دی
ځائ پر ځائ باندي هر فرد خوله خوله شو
لور په لور باندي خوره شوه سخته وېره
چي د خدائ هره وعده تر سره کیږي
دا خبره د هر چا زړۀ ته وه تېره

سپیني اوښکي ئې له سترګو شوې رواني
په فریاد ئې مدد وغوښت له رسوله
چي هر شرط پوره کولو ته تیار یو
دعا وکړه چي توبه مو شي قبوله

پېغمبر د خپل امت په غم زهیر شو
ورله وې غوښت امان له پاکه خدایه!
د خپل دوست ناز ئې وانه چاوه پر مځکه
رانازل شو دا فرمان له پاکه خدایه:

"کفاره ادا کول که مو زړۀ غواړي
نو له تېکي رابهر کړئ خپلي توري
تر خپل منځ د ورور وژني جنګ اغاز کړی
یو د بل اولاد یتیم کړئ مندي بوري

سر ئې ووهئ چې څوک درځي په مخه
دا ئې مه ګورئ چې ورور دی که تربور دی
دلته امن دی د هغه چا په برخه
چي ئې تن پر هر پرهر په وينو سور دی

ټولو کښيښوولو دې امرته غاړه
ورور له ورور او زوی د پلار سره په جنګ شو
د يعقوب د وطن مخ ئې سوربخن کړ
پر هر رنګ باندي غالب د وينو رنګ شو

د موسیٰ سترګي شوې ډوبي په حيرت کي
څلي څلي ککرۍ ئې وي په وړاندي
د قام خپلي سپيني توري چلېدلې
د قام خپلي ککرۍ ئې وې په وړاندي

لور په لور ساندي خورې شوې د تور سرو
سرتر پايه وطن ډک شو له فياهد
غلبلې د ماشومانو شولې پورته
پرېشان غوندي فلک شو له فرياده

زېری راغی چې لاس وينسئ له جنګه
کفاره د ګناهونو مو ادا شوه
د سرو وينو په زم زم باندي مو پرېوله
که داغدار مو لمن وه اوس صفا شوه

ټولو تېکي ته ور واچولې توري
خو يوه قبيله شوه پر مېدان پاته
په کشتار ئې لا ارمان ختلی نۀ ؤ
په سر وينو ئې لا نه وه سر په ماته

د لوئ خدائ انعام ئې وواهه په لته
او د امن له قيامه انکاري شوه
سپيني توري ئې لړ نوري ګرندې شوې
د وژني سلسله په زور جاري شوه

لا تر اوسه وهي يو د بل سرونه
لا تر اوسه يو د بل په وينو پايي
بلل کېږي پښتانهٔ دا ئې معمول دی
ورور د ورور او خپل د خپل په وينو پائي (۱۵)

پښتون قام په مېلمه پالنه کښې له ورایه ځرګند دی. که چېري د پښتون يو مېلمه هم و کمبلي ته راشي، نو د بدلې په ځائ د خپل مېلمه عزت داسي ګڼي لکه فرض لمونځ او د هغه عزت خپل غيرت بولي. دروېش دراني په خپله مجموعه "ستوري په لمن کي" کتاب کښې د مېلمه د عنوان په نامهٔ يو ستر نظم ليکلی دی چې د هم دغه کېفيت غمازي کوي.

مېلمه و دی او ستا پر غولي ناست ؤ
تا لاسونه ور مينځل تر ډوډۍ وړاندي

غبرګ لستوني ئې و س تا د سترګو مخ ته
چي پراته وربادي تکي و د ويني
دغه وينه نه د پسه نه د هوسۍ وه
نه د زرګي نه د بل يوه مرغه وه
دا وه ستا د هغه زوی د بدن وينه
چي دهٔ ډېر په نا ترسي و حلال کړی

ستا مېلمه و او تر دغه ساعت وړاندي
نه تا دی په خپلو سترګو و ليدلی
او نه دهٔ ته په رنګ باندي پېژندلې
بس مېلمه و او دا ستا پر دستر خوان ئې
نن له تا سره ډوډۍ خوړه په ګډه
خو تر ستوني ئې ګوله نه تېرېدله

دا په دا چې اوس په دې و پوهېدلې
چي دا ده چې له کوم چا کوله تېښته
تور نصيب ئې سترګي داسي کړې ور پټې
چي د خپل اصل منزل لار ئې کړه ورکه
او د هغه لوئ دښمن غولي ته راغی

سا مېلمه ؤ او دا ستا په کور کي ناست ؤ
پر دېوال باندي ئې مخ ته اوېزان ؤ
توره سپر، زغره، نېزه، لينده او غشي
دۀ به وکتل دې ټولو ته په غور
بيا به ځير شو ستا قوي غوندي بازو ته
او په زړۀ کي به ئې راغله دا خبره
چي د دې دښمن له لاسه خلاصي ګران دی
خو په دې به ئې زړۀ بېرته څه ډاډه شو
چي نن شپه د مېلمستيا له برکته
د دۀ سرته شايد دومره خطر نه وي
ستا مېلمه و دی او ستا په کور کي پروت ؤ
اوس په دې خبره ښه وپوهېدلې
چي تا دي دی پېژندلی په ښه توګه
خو په دې ئې چرته روح هم اګاه نه ؤ
چي ستا نور دښمنان هم شته له دۀ پرته
دغه حال و دۀ ته هله ور معلوم شو
چي په نيمه شپه يو چا د دۀ له مخه
ډېر په قهر تلتک وغورځاوه لري
د دۀ سترګي چې راروني شوې له خوبه
تۀ د خپلو دښمنانو په قبضه کي
لاس تړلی وې ولاړ د دۀ په وړاندي

ستا مېلمه و دی او ستا د دښمنانو
سل په سل کي دا يقين ؤ چې ستا زوی دی

هغوئ یو هم په دې باندې خبر نه ؤ
چې ستا زوی په ناترسي دی وژل شوی
ځکه دوئ دۀ ته ور وتړل لاسونه
او چاړه ئې په دې نیت باندې راوکښله
چې حلال ئې کړي په جبر ستا و مخته
د دوئ خیال و چې د زوی دغسي مرګ به
ستا پر زړۀ باندې یو داسي زخم جوړ کړي
چې تمام عمر به ویني ترې بهېږي

ستا مېلمه و دی او تا و خپل دښمن ته
د دۀ اصل حقیقت کړ وربه ګوته
خو هغو ستا په وېنا یقین ونه کړ
د دۀ غاړه ئې کړه سمه و چړې ته
دی له وېرې د زعفران هسي تک زېړ شو
حیرت یوور چې قدرت په کومه توګه
نن سزا د خپل عمل ورکوي دۀ ته
او بیا کله چې چړې غاړه ور پرې کړه
تاته داسي ښکارېده لکه چاړه چې
ستا دښمن وي ستا په زړۀ کښې ماته کړې
تاته داسي ښکارېده لکه ستا زوی چې
یو ځل بیا وې ستا په وړاندې حلال شوی

زۀ د خپلي مقالې پایځ د پښین د سیمي د یو ځوان شاعر په یو څو اشعارو پایځ ته رسوم چې وایي.

حق د بل و ځانته پېژني درانۀ دي
پښتانۀ په دغه چاره پښتانۀ دي

تل به وویني په وکر د پښتانۀ کښې
ښۀ خبره ښۀ خواړه د مېلمانۀ دي (۱۷)

**پائله**:

که په ځیر نظر ورته وکتل شي د براهویانو او پښتنو تعلق د هم هغه قومونو څخه دی لکه په بدن کښې چې د ویني جریان وي. دغه قومونه په اتفاق سره اوسېږي. او ټول قومونه په ګډه سره اوسېږي. براهویان چې چېري ناسته پاسته کوي یا د ژوند د تګ راتګ چاري تر سره کوي د ټولو د ژوند راشه درشه سره ورته دي.

براهیوان او پښتانۀ د خپلي شاعري لومړي شعرونه په حمد او په نعت سره کوي په هم دغه حمدیه کلامونو او نعتونو دوئ په خپله شاعري کښې برکت او ښائست راولي. د دوئ دود او دستور ډېر سره ورته دی. چې نارینه ئې کالي اغوندي او ټول یو رنګه لنګوټې په سر کوي.

په پښتنو باندي د خدای ډېر رحمت دی. که چېري د پښتانۀ کور ته قاتل یا مقتول راشي نو د مېلمانۀ په څېر ئې عزت وکړي او کړي ګناوي ټولي ور معاف کړي.

## حوالې

۱:مرادافضل،توش،ہنہ ۱۳، براہوئی ادبی سوسائیٹی کوئٹہ،۲۰۰۴

۲:صابر عبدالرزاق،چراغ صابر ، براہوئی ادبی سوسائیٹی کوئٹہ،۱۹۸۱

۳:رومان انور، پروفیسر بلوچستان،۵۳ گوشہ ادب جناح روڈ کوئٹہ، ۱۹۸۸

۴:حمید اللہ،صاحبزادہ، پشتو ادب بلوچستان میں،۱، پشتو ادبی بورڈ بلوچستان

۵:تلار روزنانہ،نومبر ۲۰۱۴،۶۶

۶:بیدار قیوم،براہوئی زبان وادب،۳۳براہوئی ادبی سوسائیٹی کوئٹہ،۱۹۸۶

۷:اباکی عبدالخالق،درالک،۸۳،براہوئی اکیڈمی کوئٹہ ۲۰۰۲،

۸ز:استاد صالح،غزلیات شاد،۳۵ براہوئی اکیڈمی کوئٹہ ۲۰۱۵،

۹:شاہ غریب،شارک ،۵۶،عاشوں ادبی دیوان کوئٹہ،۲۰۱۶

۱۰:ابادی عزیز،گلدستہ مستونگ ،۳۴،براہوئی اکیڈمی کوئٹہ،۲۰۰۲

۱۱: عبدالحئ حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ ،(جلد اول) کابل پښتو ټولنه بار دوم، ۱۳۴۲ هـ ش ص ۲۴

۱۲: سید خیر محمد عارف، دیوالونه وینې دي، لورالائي پښتو ادبي ملګري بار اول ۲۰۱۲ ع ص ۹۰

۱۳: درویش درانی، ستوري په لمن کي ،صحاف نشراتي موسسه ،کاسي بار اول ۲۰۰۰ ص ۹۸

۱۴: سید ، خیر محمد عارف ،دیوالونه وینې دي، ص ۱۵۸

۱۵: درویش درانی ،ستوري په لمن کي ،ص ۱۰۸

۱۶: ایضا ،ص ۱۶۶

۱۷: نعیم ازاد ،د میني چینه ،پښتو ادبي غورځنګ ،کوټه ،بار اول ۲۰۱۱ ص ۱۳۵